ولایت
۴ مخ


# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۹مه | د ۲۰۲۰ د نومبر نهمه | ۶۲۵مه ګڼه

## هلمند

هلمند دا مهال ۳٤۱ ښوونځي لري چې ۲۰٤ يې پرانيستي دي. په دغو ښوونځيو کې ۱۳۰ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۰ زره يې نجونې دي او د ۲۹۰۰ ښوونکو لخوا تدريس ورته کيږي .



## کرنې رياست: روان کال د ننګرهار د جلغوزو حاصلات ۳۸ سلنه لوړ شوي



د ننګرهار د کرنې رياست وايي چې سږ کال يې د دغه ولايت د هغو غرنيو سيمو اوسېدونکو ته فني وسايل وېشلي چې جلغوزي راټولوي او له همدې امله يې د جلغوزو حاصلات ۳۸ سلنه ډېر شوي دي.
چارواکي وايي، کروندګرو ته يې دا وسايل د کوکنارو د نه کرلو په بدل کې ورکړي او ټاکل شوې دا لړۍ په راتلونکي کې نورو هغو سيمو ته هم وغځول شي چې پر جلغوزو سربېره پکې چارمغز هم کيږي.
د جلال اباد ښار اړوند فارم هډې سيمه کې سوداګر له ولسواليو جلغوزي راوړي او دلته يې په کاريګرو پاکوي چې مېوه يې مالک او پاټې تش وړی يې همدا کاريګر په مزد کې اخلي. د جلغوزو کاروباريان وايي چې له چين سره د سوداګرۍ د پراختيا له امله د جلغوزو نرخونه لوړ شوي او دوی ته د پخوا په پرتله ښه عوايد په لاس ورځي.

# د بايډن بريا او افغان سياسيون؛

## حامد کرزی: د امريکا نوی حکومت دې په افغانستان کې د سولې او ثبات پر راوستو تمرکز وکړي



۳

بايډن ته ناسمه تمه
۲ مخ

افغان جګړه؛ د ټرمپ ماتې او د بايډن بريا
۲ مخ

نړيوال اقتدار غوښتونکی پوپولېزم
۳ مخ

## معترض محصلين: چارواکي دې د شمعې بلولو پرځای زموږ امنيت خوندي کړي

د کابل پوهنتون لسګونو محصلينو د يوه لاريون پرمهال پر دغه پوهنتون د تېرې اونۍ د بريد د عاملينو د نيول کېدو غوښتنه وکړه.
دوی تېره ورځ په کابل کې د يو لاريون په ترڅ کې د هغو امنيتي منسوبينو د نيول کېدو غوښتنه هم وکړه چې د دې پېښې د رامنځته کېدو په برخه کې يې بې غوري کړې ده.
دغو معترضو محصلينو په يو غږ شعارونه ورکول، د قلم شين رنګ په سور مه اړوئ او شمعې موږ ته مه بلوئ، زموږ امنيت خوندي کړئ.
د دغو محصلينو له ډلې راحله حيدري وايي: «موږ د حيواناتو په څېر وژني او له موږ څخه قرباني اخلي، دوی چې هر ورځ موږ په انتحاري او په داسې نورو ډولونو وژني، په دې پوه شي چې زموږ غږ نه چوپيږي.»
دغو محصلينو د يوه پرېکړه‌ليک په صادرولو سره د امنيتي کمرو، پوهنتون ته د غير مسوولو وسله والو د ننوتلو د مخنيوی او په دننه پوهنتون کې د وژل شويو محصلينو په نوم د يوه ځای د نومولو او له دوی څخه د پاتې شويو اثارو نه د موزيم د جوړولو غوښتنه وکړه.
په همدې حال کې کورنيو چارو وزارت بيا وايي، چې د لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون سره په ګډه د ورته پېښو د مخنيوي لپاره جدي کار کوي.

## د جګړو او تاوتريخوالي ډېرېدل د سولې روان بهير له ګواښ سره مخ کولی شي





۵ مخ

## وزارت تجارت: واردات از پاکستان به افغانستان ٦۴ میلیون دالر کاهش یافته است



وزارت تجارت و صنعت افغانستان می‌گوید واردات از پاکستان به افغانستان کاهش یافته است.
جواد دبیر، رئیس روابط عامه این وزارت دیروز به رادیو آزادی گفته سات که در شش ماه گذشته واردات از پاکستان در مقایسه با زمان مشابه سال گذشته ٦۴ میلیون دالر کاهش یافته است.
آقای دبیر می‌گوید قرنطین در افغانستان، رشد تولیدات و گسترش روابط تجاری با کشورهای دیگر از عوامل اصلی این امر است.
به گفته آقای دبیر، سال گذشته افغانستان به ارزش یک میلیارد دالر مواد مختلف از پاکستان وارد کرده بود، اما پیشبینی‌ها نشان می‌دهد که تا پایان سال روان این رقم به ۸۰۰ میلیون دالر کاهش خواهد یافت.
این در حالیست که پاکستان برخلاف تعهدات شان امسال هم چندین بار دروازه تورخم و سپین بولدک را بر روی صادرات و واردات افغانستان بستند که از همین خاطر به تاجران افغان ده ها میلیون دالر خسارات وارد شدند.
در عین حال تاجران افغان هم می گویند که آنها تلاش می کند به جای پاکستان بیشتر به کشورهای اسیای میانه و ایران برای واردات اموال تجارتی تمرکز کند.
قابل ذکر است که در این آواخر با سفر گروپ پارلمانی افغانستان به پاکستان، حکومت ان کشور تعهد سپرده بود که تمام مشکلات تاجران افغان را به زودی حل می کند، اما این کشور تا اکنون به تعهد خویش عمل نه کرده است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازي ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریــځ

## بایډن ته ناسمه تمه

له تمې سره سم د امریکا ولسمشریزې ټاکنې د ډیموکرات ګوند کاندید جوبایډن وګټلې. که څه هم د ټرمپ لخوا بایډن ته د واک لېږد ته څه باندې دوې میاشتې وخت پاتې دی، خو سر له اوسه په افغانستان کې دا بحث ګرم دی چې بایډن به په افغانستان کې د خپلو پوځیانو له حضور، جګړې او سولې سره څه ډول چلند کوي؟

بایډن د کمپاین پر مهال د افغانستان په اړه ډېر څه نه دي ویلي، یوازې دومره یې ویلي چې له دې هېواده خپل پوځیان وباسي او یوازې یوه وړه ډلګی به له داعش سره د جګړې لپاره پرېږدي. تر کاندیدی وړاندې بایډن د افغانستان په اړه ډېر منفي نظر درلود او په دې اړه یې ځرګندونې هم کړې دي. نوموړی افغانستان د امریکا لپاره دویم وېتنام ګڼي او غواړي خپل ځواکونه وباسي. بایډن دغه راز یو وخت ویلي وو چې افغانستان یو ملت نه دی او باید پاکستان ته وسپارل شي. واک ته د بایډن راتګ به هغه له ځینو محدودیتونو سره مخ کړي او هغسې څه کول به ورته ستونزمن وي چې تر کاندیدی مخکې یې ویلي وو، خو یوه خبره واضح ده چې هغه نه غواړي په افغانستان کې خپل پوځیان وساتي او دلته له دولت جوړونې او ملت جوړونې سره مرسته وکړي. له همدې امله د افغانستان د ستونزې ښکېل افغاني اړخونه باید هغه درک کړي او پرې تکیه ونه کړي، بلکې خپله د ستونزې د حل لپاره لاس پکار شي. که د افغانستان د حکومت تصور دا وي چې بایډن به له طالبانو سره هوکړه لغوه کړي، د ځواکونو وتل به ودروي، جګړه به وغځوي او د افغانستان له حکومت سره به د پخوا په شان ببرته مرستې پیل شي او ښې اړیکې به ورسره ولري؛ نو تېروتنه کوي، ځکه چې بایډن نه یوازې له طالبانو سره هوکړه له منځه نه وړي، بلکې د افغانستان پر وړاندې هېڅ ځان مسوول نه ګڼي او د ځپلو ځواکونو د وتلو په اړه فکر کوي. هغه ته مهمه نه ده چې په افغانستان کې دولت او ملت څنګه کېږي او په دې اړه آن له پاکستان سره د معاملې فکر هم لري.

نو پر دې بنسټ د افغانستان حکومت باید له بایډن څخه داسې کومه تمه ونه لري چې افغانستان ته به یې ګټه رسېږي، بلکې باید خپله د ستونزې پر حل تمرکز وکړي. حکومت او طالبان دواړه باید نور نه امریکا او نه هم کوم بل بهرني ځواک ته سترګې ور واړوي، بلکې خپله له یو بل سره د افغانستان ستونزه حل کړي. د بایډن له راتګ سره به هېڅ کوم لوی بدلون را نه شي، نو ځکه دواړه اړخونه خو به یا سوله کوي او یا به هم په یوه کورنی جګړه کې را بندیږي. اوس دواړه اړخونه باید ومني چې پر جګړه ټینګار یې نه په کور دننه د خلکو ملاتړ له ځان سره لري او نه به یې هم امریکا ملاتړ وکړي. له همدې امله دوی باید د خپلو خلکو د ګټو او خوندیتوب په اړه فکر وکړي. دا فکر او دا لاره د سولې او جوړجاړي لاره ده. د افغانستان حکومت او طالبان باید دواړه انعطاف وښیي، د جګړې فکر او هڅې پرېږدي، سوله وکړي او پر یو داسې حکومت سره سلا شي چې پر اسلامي او افغاني ارزښتونو ولاړ وي. له دې پرته به د بایډن په مشرۍ امریکا خپل کار کوي، ځواکونه به وباسي او آن د پاکستان په شان بل هېواد ته زموږ د سپارلو له معاملې به هم مخ نه اړوي.

# افغان جګړه؛

## د ټرمپ ماتې او د بایډن بریا

ذاکر جلالي

د اسوشیېټېډ پریس خبري اژانس له راپور سره سم د امریکا د ټاکنو نارسمي پایلې ښیي چې د ولسمشر ټرمپ ډیموکراټ سیال جو بایډن د الکټرل کالج یا ټاکنیز پلاوي د ۲۷۴ رایو په خپلولو سره ګټونکی دی. د امریکا ټاکنې نه یوازې دا چې امریکایانو ته مهمې وې، بلکې په ټوله کې پر نړیوال سیاست خپل د پام وړ اغېز لرلی شي. د دغه اغېز کچه بیا د افغانستان پر سولې او جګړې لا زیاته ځکه ده چې امریکا په افغانستان کې له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د جګړې یو مهم لوری دی. افغان جګړه د امریکا په تاریخ کې د دغه هېواد تر ټولو اوږده جګړه ګڼل کېږي.

پر افغانستان د امریکا له یرغل وروسته دا د امریکا د ولسمشرۍ څلورم ځل ټاکنې دي. افغان جګړې هم جمهوریت غوښتونکي او هم ډیموکرات امریکایي ولسمشران تجربه کړل. دا باید هېره نه کړو چې لومړی د ډیموکرات اوباما او مرستیال بایډن په دوره کې د افغان سولې بهیر پیل شو، په قطر کې طالبانو ته سیاسي دفتر ورکړل شو او د امریکا او طالبانو تر منځ د بندیانو تبادله وشوه. اوس پوښتنه دا ده چې د جمهوري غوښتني ولسمشر ډونالډ ټرمپ له ماتې او د ډیموکراټ نوماند جو بایډن بریا افغان سولې او جګړې ته څه مانا لرلای شي؟ د دغو دوو امریکایي سیاستوالو لیدلوري د افغان جګړې په تړاو څه ورته‌والی او توپیرونه لري.

**د ټرمپ خپسه**

که رسمي دریځونه یوې خوا ته پرېږدو، په افغانستان کې د بایډن د بریا خبر د ولسمشر غني پلویانو کې نوی ساه وچلوله؛ ځکه دوی فکر کوي چې د سولې د روان بهیر پای د دوی واک او ځواک له ننګونې سره مخ کوي. له همدې امله په ۲۰۱۷ ز کال کې کله چې ولسمشر ټرمپ د سویلي اسیا لپاره خپله جګړه‌ییزه ستراتیژي اعلان کړه او افغانستان ته یې د درې زره نورو امریکایي ځواکونو د لېږلو فرمان ورکړ، افغان حکومت یې تود هرکلی وکړ. ټرمپ هغه پرېکړه په نه زړه کړې وه. مک ماسټر چې هغه مهال د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار و، افغانستان ته د نوو ځواکونو د استولو مشوره ورکړې وه. د مک ماسټر دغه دریځ وروسته د ټرمپ او د ده تر منځ د اختلافاتو لامل شو او ماسټر لرې شو.

ټرمپ خپلو جنرالانو ته پوره واک ورکړ چې افغان ربړه د جګړې له لارې اواره کړي. د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ ز کلونو په اوږدو کې امریکایي جنرالانو پر طالبانو سیاسي، پوځي، اقتصادي او ان مذهبي فشارونه راوړل چې که د جګړې معادله بدله کړي. د یوه کال په تېرېدو سره ټرمپ د جګړې له پوځي بریا نهیلی شو. د ۲۰۱۸ ز کال په سپټمبر کې یې زلمی خلیلزاد د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي په توګه وګوماره. خلیلزاد له طالبانو سره په اته‌لسو میاشتو کې یوولس پړاوه له لوړو ژورو ډکې او ستومانوونکي خبرې وکړې چې پای یې د ۲۰۲۰ ز کال د فبروري په ۲۹مه د دوحې تاریخي هوکړه شوه. د دوحې د هوکړې له مخې به امریکایي ځواکونه په څوارلسو میاشتو کې (د ۲۰۲۱ کال تر مې) له افغانستانه په بشپړ ډول وځي او طالبان به امریکا ته دا تضمین ورکوي چې د افغانستان خاوره به د امریکا او د متحدینو پر خلاف یې نه کارول کېږي.

**بایډن ته د افغان حکومت هیله**

د ټرمپ ځانګړې حکومتولي د نړۍ ډېرو سیاستوالو ته یوه خپسه وه؛ خو د افغان حکومت لپاره د ټرمپ دوره ډېره مثبته نه وه. د افغان حکومت له دریځونو ښکاري چې بایډن ته یې هیلې زیاتې دي. په ځانګړي ډول به افغان حکومت هیله‌من وي که د بایډن په راتګ سره د دوحې هوکړه لغوه شي او په ټوله کې د سولې پر روان بهیر جدي بیاکتنه وشي او ژور بدلونونه راشي. اوس چې د راتلونکي کال په جنوري کې بایډن د امریکا د ۴۶م ولسمشر په توګه لوړه کوي، مهمه پوښتنه دا ده چې منتخب ولسمشر جو بایډن افغان جګړې ته په کومه سترګه ګوري؟ ایا بایډن به د سولې بهیر لغوه کړي؟ افغانستان ته به نور امریکایي ځواکونه راولېږي؟ په ټوله کې به بایډن له افغان جګړې سره څه چلن وکړي؟

بایډن د افغانستان د ربړې په تړاو د خپل دریځ په اړه کافي صریح او واضح غږېدلی. په ۲۰۱۰ ز کال کې یې ویلي وو: «زه خپل زوی بیا هلته [افغانستان] ته نه لېږم چې ژوند یې د ښځو د حقونو لپاره له خطر سره مخ شي.»

پخواني ولسمشر بارک اوباما چې بایډن یې په دواړو دورو کې مرستیال و، د اکتوبر میاشت کې د بایډن په اړه وویل چې د ده د لوړپوړو سلاکارانو په کتار کې بایډن «داسې یو څوک و چې د پوځي ځواک د کارونې په باب تر ټولو ډېر نیولی [محتاط] و». د اوباما په وینا، په سپینه ماڼۍ کې بایډن په لیبیا او سوریه کې د امریکا له پوځي مداخلو سره مخالف و.

د ۲۰۱۹ ز کال په ډسمبر کې بایډن د افغان جګړې په اړه وویل: «لومړنی کار چې د امریکا د ولسمشر په توګه به یې وکړم دا دی چې ټول جنګیالي به کور ته راولم، له طالبانو سره به مذاکرات کوم او تر شا به کوچنی د ترهګرۍ ضد ځواک پرېږدم چې د بالقوه ګواښونو مخنیوی وکړي. دا په هغه صورت کې چې موږ ښه مذاکرات نه وي لرلي».

بایډن د بهرني سیاست په ډېر بحثونو کې له ټرمپ سره جدي او ژور اختلافونه لري؛ خو د افغانستان په مسئله کې یې د ټرمپ پالیسي نه ده ننګولې او تل یې د ځواکونو د وتلو له بحثه ملاتړ کړی.

د اوباما د حکومت او پخواني افغان حکومت تر منځ اصلي ستونزه دا وه چې د اوباما حکومت په افغانستان کې د طالبانو جګړه Insurgency یا کورنی بغاوت تعریفاوه. هغه څه چې افغان حکومت ورسره مخالف و. بایډن لا هم ورته باور لري. بایډن فکر کوي چې افغانستان کې یې رول باید یوازې د ترهګرۍ ضد وي او طالبان د افغانستان د یوه واقعیت په توګه مني. د ۲۰۲۰ ز کال په فبروري کې د سي بي ایس ټلویزیون Face the Nation خپرونې ته بایډن وویل: «زه تر هر څه وړاندې د نورو ځواکونو له استولو سره مخالف وم. زه تر دې د ډېر کوچني شمېر عسکرو له شتون سره موافق وم چې د القاعدې او داعش پر ضد جګړه وکړي.»

بایډن هېڅکله د ټرمپ د اداري او طالبانو تر منځ د دوحې له هوکړې سره مخالفت نه دی کړی. د دوحې د هوکړې له لاسلیک وړاندې بایډن وویل: «اوس له وخته مخکې ده. موږ به وګورو چې دا یوه ښه هوکړه ده که نه». د افغانستان په اړه د بایډن یوازینۍ اندېښنه له افغانستانه د القاعدې او نورو نړیوالو ډلو لخوا د امریکا د امنیت تهدید دی او دا هغه څه دي چې د دوحې په هوکړه کې یې په اړه تضمین ورکړل شوی. تر دې هاخوا بایډن د افغانستان په اړه فکر نه کوي. په همدې مرکه کې ترې وپوښتل شول چې که طالبان بیا د افغانستان کنټرول په لاس کې ونیسي، تاسې د مسوولیت احساس کوئ؟ بایډن وویل: «نه، هېڅ، صفر مسوولیت! زما مسوولیت د امریکایانو د ملي ګټو ساتنه ده. دا د ولسمشر په توګه زما مسوولیت دی».

هم د اوباما د واکمنی پر مهال او هم له هغې وروسته که د افغانستان په اړه د جو بایډن دریځونه و ارزول شي، داسې نه برېښي چې د ده له واکمنی سره به د افغانستان په تړاو د امریکا په سیاستونو کې ژور او د پام وړ بدلونونه راشي. ټرمپ د اقلیم تودوخې له مسئلې نیولې تر ایران او چین پورې ډېر توند او سخت دریځونه نیولي وو. افغانستان ښایي د ټرمپ په بهرني سیاست کې ځانګړی مثال وي چې ټرمپ یې د مذاکراتي اواري په لټه کې و. دا هغه څه دي چې بایډن به یې هم مخالف نه وي.

کله چې د دوحې په هوکړه کې بایډن له افغان خاورې د نه خطر تضمین تر لاسه کوي، فکر نه کېږي چې له دې پروسې سره دې مخالف وي. پر دې سربېره، بایډن په هېڅ صورت په افغانستان کې د پراخ پوځي حضور او مداخلې پلوی نه دی. بایډن په ۲۰۱۰ ز کال کې د نوو ځواکونو له استولو سره مخالف و، اوس چې نړیوال او سیمه ییز شرایط هم کافي بدل دي، په هېڅ صورت به پوځي اواري ته لومړیتوب ورنه کړي. کله چې بایډن د پوځي حل پلوی نه دی، یوازینۍ لار مذاکراتي حل پاتې کېږي.



# تر جنجالي ټاکنو وروسته د بایډن بریا؛

## جو بایډن: د یووالي په هڅه کې یم، نه د وېشلو او د امریکا د پیوستون وخت دی

وروسته له هغه چې د شمېرل شویو رایو پر اساس جو بایډن د امریکا د متحده ایالتونو د جمهوري ریاست د ټاکنو ګټونکی اعلان شو، پخپلې لومړنۍ وینا کې یې د امریکا خلکو ته په خطاب کې وویل چې د یو او بل ترڅنګ ودرېږي او امریکا ورغوي.

بایډن چې د دلاویر ایالت په ولمینګټن ښار کې خپلو پلویانو ته وینا کوله، وویل: «هڅه کوم داسې ولسمشر شم چې د وېشلو نه، بلکې د یووالي په هڅه کې اوسم.»

نوموړي په پنسلوانیا کې تر بریالیتوب او په دغه ایالت کې د ۲۰ انتخابي رایو تر ګټلو وروسته له خپل سیال ډونالډ ټرمپ څخه مخکې شو او لږ وروسته نوموړی په نوادا ایالت کې هم ګټونکی اعلان شو او د ګټلو رایو شمېر یې ۲۷۹ ته پورته شو.

دا په داسې حال کې ده چې په امریکا کې د ولسمشریزو ټاکنو یو بریالی نوماند باید له ۵۳۸ انتخاباتي رایو څخه ۲۷۰ رایې خپلې کړي.

جو بایډن چې په ۱۹۸۸ او ۲۰۰۸ کلونو کې د امریکا متحده ایالتونو ولسمشریزو ټاکنو ته کاندید و، په هغو وختونو کې خپلو ناکامیو ته په اشارې وویل چې هغه کسان درکوي چې ډونالډ ټرمپ ته یې رایه ورکړې ده، خو زیاته یې کړه چې هغوی زما دښمنان نه دي، هغوی امریکایان دي.

بایډن وویل چې لومړنی کار به یې د امریکا په متحده ایالتونو کې د کرونا ویروس د خپې مهارول او مخنیوی کول وي. نوموړي وویل: «د دوشنبې په ورځ(نن) به یوه ډله پوهان او مخکښه متخصصین د انتقالي سلاکارانو په توګه ټاکم، ترڅو هغوی د کرونا ویروس سره د مبارزې برخه کې د بایډن ـ هریس له طرحې سره چې د جنورۍ په ۲۰مه پیلېږي، مرسته وکړي... دغه طرحه به د علم په اساس وي.»

تر بایډن مخکې د هغه لومړۍ مرستیاله کاملا هریس وینا وکړه، هغه څوک چې د امریکا په تاریخ کې د لومړنۍ تورپوستې مېرمنې په توګه د دغه هېواد لومړۍ مرستیاله وټاکل شوه.

وروسته تر دې چې جو بایډن د ټاکنو ګټونکی اعلان شو، د ټرمپ انتخاباتي کمپاین په یوې اعلامیې کې وویل چې د انتخاباتو پایلې له ستونزو سره مخ شوي او محکمې ته به خپل عرض وړاندې کړي. په دغه اعلامیه کې راغلي: «ټول پوهېږو چې جو بایډن تعجیل کوي، ترڅو په نادرست ډول خپل ځان بریالی اعلان کړي او د هغه رسنیز ملګري د هغه سره د ډېرې مرستې په لټه کې دي، هغوی نه غواړي چې حقایق روښانه شي، اصلي حقیقت دا دی چې د انتخاباتو تر پای ته رسېدو پورې ډېره لار لا پاتې ده.»

په ورته وخت کې د نړۍ ګڼو مشرانو هم د امریکا په ټاکنو کې د بایډن د بریالیتوب له کبله نوموړي ته مبارکي ورکړې ده. ناټو سازمان او د دغه سازمان ډېریو غړو هېوادونو، هند، پاکستان، قطر، افغانستان او د ګڼو نورو هېوادونو رهبرانو د جوبایډن د کامیابۍ د هرکلي ترڅنګ نوموړي ته مبارکي هم ویلې ده.

# نړیوال اقتدار غوښتونکی پوپولیزم

لیکنه: الفونز لوپېز تانا /ژباړن: جواد تیموري

**حکومت کوي یا له منځه ځي؟**

هغه هېوادونه چې په تېر کې تر ټولو ځواکمن وو، کله چې اوسمهال خپل پرځېدل درک کوي، د خپل ملت لپاره یوه تیاره او سولېدلي راتلونکېویني، ځکه هغه خلک چې ځانونه تر ټولو ځواکمن هېوادونه ورته ښکاري، حقیقي ځښتنان یې د اوسني وضعیت د له لاسه وتلو له کبله په وېره کې دي او داسې فکر کوي، هغه مهال چې دا واک او ځواک یې له لاسه وتلی وي او بیا دغه ورځې په خپل ذهن کې تصور کوي چې یو وخت یې په ټوله نړۍ واکمني کوله، خو اوس هغه هرڅه له منځه تللي، دا د دوی لپاره ډېره دردوونکې ده. لږ تر لږه د ګاونډیو هېوادونو له کینې ډک چلن او یا هم په خپله په کور دننه ناوړه وضعیت د ځواک د له منځه تلو مهم علتونه دي. ښه بېلګه یې برېټانیا ده، ۵۳ سلنه برېټانویانو له اروپایي ټولنې د وتلو لپاره رایه ورکړه، په کور دننه هم وضعیت ترینګلی دی او دا رښتیا هم د یوې بدې راتلونکې زېری له ځان سره لري.

انګلستان له هغو هېوادونو دی چې تر ډېره پر خپل ملي غرور متمرکز دی، ځان ورځ تر بلې محدودوي او په نړیوالو مسایلو کې خپل واکونه او حقوق په لړزېدونکي ډول تصور کوي. دا یو نړیوال حرکت دی، خو د کاتولونیا په څېر موارد بیا د وضعیت د کلي تجزیې او تحلیل تر ټولو غوره بېلګه ده؛ ځکه چې اساسي قوتونه چې د پاشل کېدو څپې نورې هم پیاوړې کوي، په حاشیوي هېوادونو کې تر نورو ژر په ځمکه راغورځي چې ان پیاوړي بنسټونه او ازادي غوښتونکي سنتونه یې هم مخه نه شي نیولی. یوازې د منځنیو او ټیټو طبقو خلکو زړونه د ناهیلۍ او وېرې له کبله تهدیدوي، د دوی عمومي پوهه نوره هم راټیټوي؛ ځکه نو دوی په مرکزي هېوادونو کې د بحران پر یوې سونامۍ هم بدلېدلی شي.

ګلوبلایزېشن د دې لامل شوی چې د چارو مدیریت په دوامداره توګه او ویاړ سره تر سره شي او دا ډاډ تر لاسه شي چې مناسب کسان (ښه کسان) پر ملاترو لوبو او هغو شبکو په تکیې سره چې له عامه پیسو او سرچینو تغذیه کېږي، حکومتونه وکړي.

په اروپا کې د قدرت د سقوط تر ټولو مهم مورد، کاتولونیا ده. هغه هېواد چې یو وخت ځواکمن و، د مدیترانې پر امپراتورۍ یې حاکمیت درلود، خو پنځه پېړۍ وړاندې یې خپلواکي له لاسه ورکړه، درې ځله په اسپانیا کې مدغم شو او دوه ځله له فرانسې سره یوځای شو، په ۱۷مه پېړۍ کې یې د خپلواکۍ جګړه هم له لاسه ووته او د اسپانیا او فرانسې تر منځ ووېشل شو.

په انګلستان، کاتولونیا، صربیا، هنګري، پاکستان، متحده ایالتونو، تایلنډ، ایټالیا، ترکیې، پولنډ، اسراییلو، برازیل، هند او څو نورو هېوادونو کې ګلوبلایزېشن د چارو د مدیریت په وخت کې د افتخار وړ ګرځېدلی چې د خلکو ډاډ یې تر لاسه کړی، یانې (ښه کسان) تل پر ملاترو لوبو او شبکو په تکیې سره چې له عمومي پیسو او سرچینو تغذیه کېږي، حکومتونه کوي. د شایسته سالارۍ پر ارزښتونو ولاړې نړیوالې سیالۍ په پرله پسې او ګواښوونکي ډول هغه اساسي فرضیه چې مناسب کسان باید رشد او وده وکړي، له منځه وړي. شایسته سالاري ټول خلک ځان ته جلبوي، چې ځانونه له محدودیتونو او محدودو چوکاټونو راوباسي او وده وکړي، نو له همدې کبله ډېری نامستحق کسان په مستحقو او مناسبو کسانو چې د ګلوبلایزېشن د پاتې شونو په توګه پاتې کېږي، غلبه کوي. دویم هغه کسان چې په سنتي ډول په واک کې پاتې دي، هم د خپل ارزښت په کم رنګه کېدو او هم په تدریجي ډول د هغو شیانو په له منځه تلو سره، چې دوی ته ډېر ګران دي، پوهېږي او د واک د بېرته په لاس راوړلو لپاره هر هغه څه کوي چې اړتیا یې وي، ان که هغه د نورو خلکو د حقونو او ازادیو تر پښو لاندې کول هم وي.

دا ټول د تاریخ یوه کوچنۍ برخه ده، چې له ځنډ پرته تکرارېږي، مخکې له دې چې خلک له فاسدینو کرکه وکړي او پر وړاندې یې ودرېږي، تر دې وړاندې به د بزګرانو طبقه د هغو سوداګرو پر وړاندې هم درېدل چې له خپلو پیسو او امکاناتو په استفادې به یې هر ډول اخلاقي او نورو فسادونو ته لاره جوړوله. دا بهیر له بابل څخه پیل او تر سارایوو پورې یې دوام کړی.

مخ پر وړاندې غبرګون او نشلنېزم تر ډېره شاتګ کړی، موکول کساوان دا وضعیت داسې تعریفوي: «دا ادعا چې د یوه ملت سیاسي برخلیک باید د اکثریت مذهب او یا قوم لخوا وټاکل شي؛ دا په ډاګه کوي چې د هماغه اکثریت مذهب او قوم د یوه ملت اصلي اوسېدونکي دي. نور خلک او اقلیتونه ښاغلي دي، مېلمانه دي او دا تمه ترې کېږي چې دوی دې تل ښه چلن کوي. په مډرنو ډیموکراسیو کې له اکثریت پرته د نورو کسانو د بشپړ تابعیت د تحمل لپاره بل هېڅ انتخاب نشته. دا یو پېچلی او بې ثباته حالت دی، هغه سیاست چې د اقلیتونو بشپړ تابعیت نفې کوي، په لنډ یا اوږدمهال کې به دوی له سیاسي تصامیمو هم محروم او بهر کړي. پر دې سربېره چې دوی په هغه سیمه کې مېشت دي، خو دا هېڅکله په دې مانا نه ده چې د هغې سیمې اصلي اوسېدونکي دي هم وي او په حقیقت کې دوی له بل ځای سره تړاو لري.»

هغه کسان او اقلیتونه چې د ګلوبلایزېشن د شایسته سالارۍ زړورتیا او جرئت لري، خپل ښاغلی او محترمانه چلن دروي، دوی هېڅکله نه تسلیمېږي او دوی پر دې باور وي چې باید خپل ځای او سیمه تل په یاد ولري او د خپلو مشروع غوښتنو لپاره مبارزه کوي.

برتري هماغه څه ده چې استازي او لوړه طبقه خلک یې غوښتونکي دي او د خوندیتوب لپاره یې جګړه کوي، دوی د خپلو هغو څیزونو لپاره چې له لاسه یې وتلي او یا فکر کوي چې له لاسه به یې ووځي، له هېڅ کار ډډه نه کوي، چې دا واقعاً د نړۍ لپاره د خطر د زنګ په مانا دي.

ډېری پوپولیست رهبران خپلو پیروانو ته یو وېروونکی پیغام هم لري او ورته وایي چې نیم کسان باید کار وکړئ او نیمو نورو ته بیا د دغو نیمو نورو په پرتله دوه برابره مزد او حق الزحمه درکوو، خو یوازې به هغه څه کوي چې موږ یې غواړو. د ټرمپ، جانسون، بولسونارو، مودي، اردوغان، مادورو، اوربان او کاتالای وېروونکی جنون تصادفي نه دی، دوی هغو کسانو ته چې له دوی سره د قدرت په خوندیتوب کې مرسته کوي، ډېر ډېر امتیازات منې، د ټیټې کچې کسانو ته وده ورکوي او لوړو ځایونو ته یې راوړي، خو برعکس له هغو کسانو چې وېره لري، له لوړو ځایونو او موقفونو یې په یو ډول د ایستلو هڅه کوي، ان چې ډېری وختونه په دې برخه کې له قانون ماتوونکو هم ملاتړ کوي او په دې سره دوی په خپله د جرایمو مرتکبین هم کېږي. خپلو پیروانو ته بیا داسې ښیې چې ګواکې له دوی څخه د ساتنې په موخه هر کار چې اړین وي، تر سره کوي یې. دغه راز د نورو او مخالفو کسانو او رهبرانو د لرې کولو لپاره جدي اقدامات کوي. د دغو رهبرانو جنایتونه، جنون او انحراف د دې لامل کېږي، څو هغه کسان چې د واک تږي وي او په واک کې پاتې کېدل ورته تر هرڅه لومړیتوب او مهم وي، پر ځان راټول کړي او په دې سره د خپل قدرت لمن نوره هم وغځوي.

پر دې سربېره، دوی یو وخت د واک له لاسه وتلو صحنې هم په ذهن کې انځوروي. د دې لپاره چې دوی د واک په انحصار تورن نه شي او بیا خلک ونه وایي چې واک یې ټول انحصار کړی و، ځینې نمایشي کارونه کوي.

د بن لادن د کتاب په یوه برخه کې راځي: «د دې لپاره چې غبرګونونه راوپاروې او خپل مخالف اړخ په غوسه کړې، ځینې کارونه او اقدامات باید تر سره کړې. د دغو اقداماتو تر ټولو ښه بېلګه د داعش په څېر ترهګریز بریدونه او یا په دوامداره توګه د قانوني نظم اخلال دی. له ښکاره تبعیض او ظلم نیولې بیا تر فرهنګي جګړو، موخه دا ده چې د دغه ډول وضعیت په جوړولو سره، د مخالفانو غبرګونونه راوپاروې او په دې ډول ځان یوه سیاسي موقف ته ورسوې، دغه راز په دې ډول د مخالف لوري په منځ کې درزونه هم رامنځ ته کېږي».

زرقاوي په ۲۰۰۴ ز کال کې بن لادن ته ولیکل: «که په سُنیانو کې داسې وضعیت رامنځ ته کړو چې له اوسني حالت په تنګ شي او داسې احساس ورکړو چې ګواکې د مرګ او له منځه تلو وخت یې ډېر رانږدې شوی، نو لرې نه ده چې موږ به د فرقه‌یي جګړو په پیل کې بریالي شو او له دغه وضعیت څخه په ګټې اخیستنې موږ ډېر څه کولی شو.»

خو سیالي او شایسته سالاري که څه هم چې له سیمه‌ییز اړخه محدوده ده، خو په نړیواله کچه د یوې لوبې پیل ته زمینه برابروي. له پامه لوېدلو اقلیتونو ته هم د دې فرصت برابروي چې د نورو د پیروۍ پر ځای د خپل ځان د مطرح کولو لپاره راپورته شي او د نورو اکثریت ډلو په څېر له ټولو سرچینو څخه په مساوي توګه ګټه پورته کړي. اپل باوم لیکي: «د لوبې بایلونکي که ژر وي یا په ځنډ، تل د سیالۍ ارزښت له چلېنج سره مخ کوي، تر ټولو مهم دا چې کله د سیالۍ اصول استعدادونه هڅوي او په لوړه کچه تحرک رامنځ ته کوي، د ملي هویت په اړه ژورو پوښتنو ته ځوابونه نه وایي او یا په یوه اخلاقي ټولنه کې د غړي په توګه د انسان میل نه پوره کوي.»

اقتدار غوښتونکی پوپولیزم خپلو پلویانو ته وایي، هغه مهال چې خپل رعیت ته تسلیم شوې، نو خپل عزت، درناوی، ازادي او مانا مو له لاسه ورکوی او لرې نه ده چې په ټولنه کې نور شته ګوندونه او ډلې ټپلې به د ستاسو د واک بېړۍ در ډوبه کړي.

# د بایډن بریا او افغان سیاسیون؛

## حامد کرزی: د امریکا نوی حکومت دې په افغانستان کې د سولې او ثبات پر راوستو تمرکز وکړي



د امریکا په جنجالي ټاکنو کې جوبایډن بریالی شو چې اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ ته په غوڅ اکثریت ماتې ورکړي او د دغه هېواد راتلونکی ولسمشر شي. بایډن به د ۲۰۲۱ز کال په جنورۍ کې سپیني ماڼۍ ته ځي او خپل کار به رسماً د امریکا د ولسمشر په توګه پیلوي.

له دې سره د نړۍ سیاسیونو بایډن ته د بریا مبارکي ورکړې چې افغان سیاسیون هم له دې کاروانه وروسته پاتې نه دي. ولسمشر غني، د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله، پخواني ولسمشر حامد کرزي او ګڼو نورو افغان سیاسیونو بایډن ته مبارکي ورکړې او له هغه د سولې د راوستو تمې لري.

بایډن د امریکا ۴۶م ولسمشر شو، هغه د امریکایي ټاکنو په تاریخ کې داسې ټاکنیز ټکټ دی چې تر ټولو ډېرې رایې یې ګټلې دي. بایډن تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې راڅرګند شو او د بریا تر اعلان وروسته یې لومړنۍ وینا د امریکا او نړۍ لپاره هیله ښوونکې وه. نوموړي وویل چې په امریکا کې به د یووالي لپاره کار کوي او دغه راز به د نړۍ په کچه د امریکا برم بیا ځلي را ژوندی کړي. بایډن ته د نړۍ له ګوټ ګوټ سیاسي رهبرانو او د هېوادونو ولسمشرانو د مبارکۍ پیغامونه لېږلي دي.

افغان ولسمشر اشرف غني په خپل پیغام کې هیله څرګنده کړې چې د بایډن د واکمنۍ پر مهال د افغانستان او امریکا ترمنځ اړیکې پیاوړې او پراخې شي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې امریکا او افغانستان ستراتېژیک ملګري دي او د دې ملګرتیا د لا پیاوړتیا او قوت لپاره لا ډېر کار ته اړتیا ده. ولسمشر غني تمه څرګنده کړې چې د بایډن د حکومت پر مهال به د سولې او ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د امریکا او افغانستان ستراتېژیکې اړیکې لا پراخې شي. د هغه په خبره: ((د امریکا متحده ایالات زموږ ستراتېژیک شریک دی. له امریکا متحدو ایالتونو سره زموږ ستراتېژیک مشارکت به له ترهګرۍ سره په مبارزه او په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینګښت په برخو کې پیاوړی او دوام وکړي)).

د ولسمشر غني تر څنګ د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم د بایډن د بریا مبارکي ویلې ده. نوموړي ویلي چې بایډن او امریکایي ملت ته د سختو ټاکنو د ترسره کولو او په دې سختو شرایطو کې د یوې تاریخي هڅې د ترسره کولو له امله مبارکي وایي. ډاکټر عبدالله عبدالله وایي: ((جو بایډن، کاملا هاریس او د امریکا ملت ته د دې سترې بریا مبارکي وایم)).

پخواني ولسمشر بیا تمه څرګنده کړې چې د بایډن بریا په افغانستان کې د سولې او ثبات ته راتګ سبب شي. پخواني ولسمشر د جو بایډن د بریا په مناسبت په خپاره کړې پیغام کې ویلي، چې بایډن او مرستیالې ته یې د بریا له امله مبارکي وایي، خو د دې تمه لري چې دوی په افغانستان او سیمه کې د سولې او امنیت د راوستو پالیسي او تګلاره ولري. نوموړي هیله څرګنده کړې چې د امریکا په نوي سیاست کې له افغانستان سره د دغه هېواد اړیکې د سولې او ثبات پر تامین متمرکزې وي او په دې توګه په افغانستان کې روانې جګړې او وینې بهېدنې پای ته ورسېږي.

د پخواني ولسمشر حامد کرزي له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي: ((ښاغلی کرزی هیله من دی، چې د امریکا نوی سیاست له افغانستان سره د اړیکو په برخه کې پر سولې او د ثبات پر راتګ متمرکز وي، چې په دې توګه له دلته روانې جګړې، وینې تویېدنې او نا امنۍ ختمې شي او د افغانستان خلک به یوې تلپاتې ارامتیا ته ورسېږي)).

افغان سیاسیون داسې مهال له جوبایډن د سوله‌ییزې لارې د خپلولو تمه لري چې هغه د افغانستان په شل کلنه جګړه کې په یو ډول نه یو ډول ښکېل و. د اوباما د واکمنۍ پر مهال چې په افغانستان کې د امریکایي جګړې اوج و، بایډن د اوباما مرستیال و او په ځلونو یې افغانستان ته سفرونه هم کړي دي. هغه تر دې دمه په خپلو څرګندونو کې د افغانستان او دلته د روانې جګړې په اړه داسې د پام وړ او عملي خبرې نه دي کړې.

## د کتــاب خبــري

# د جاسوسۍ پېښلړ

## ISI, RAW


## او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها

◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه

### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




زه له دې خبرې سره موافق وم، خو قدیر خان خوښوله چې خلک یې ووینې او ویې پېژني. کېدای شي نوموړی په ډېرو ځایونو کې ستایل شوی وي، خو ډېری خلکو د هغه دا کار نه خوښاوه. ځانغوښتنه د هغه لویه کمزوري وه، خو د اټومي پروګرام په برخه کې یې هڅې زموږ لپاره که پرېکنده نه وې، نو بنسټیزې خو وې. زه ولسمشر غلام اسحاق خان ته چې د اټومي پروګرام کفیل یا ساتونکی و، ورغلم. هغه ته یاده دنده له ضیاءالحق څخه ور پاتې وه. ضیاءالحق ته د دې پروګرام مسئولیت له لومړي وزیر ذوالفقار علي بوټو څخه چې د پروګرام پلار بلل کېږي، پاتې و او له ضیاءالحق څخه بیا غلام اسحاق ته ولېږدول شو. هغه د پروګرام د خوندیتوب او مدیریت مسئولیت درلود، ځکه چې نوموړی پوهېده چې څه وکړي. که چېرته امریکایان راغلي وای، هغه به ورسره خبرې نه وای کړې. که کوم چا ترې د اټومي پروګرام په اړه پوښتلي وای، نو هغه به ورته زموږ اړتیاوې بیان کړې وې. ما ولسمشر ته وویل: ښاغلیه! په پروګرامونو او غونډو کې د عبدالقدیر خان متواتر ګډون، د هغه ویناوې او نورې کړنې مناسب کار نه دی. هوښیار سپین ږیري ولسمشر وویل، بلکل زه پوهېږم. هر کس باید د یوه پکېج یا ټولګې په توګه ومنل شي. هغه مهم دی، د پروګرام لپاره پر هغه سترګې نه شي پټېدلی او دا هغه څه دي چې موږ باید ورسره ژوند وکړو. زه باید هر چېرته تللی وای او هغوی راته ویلي وای چې مهرباني وکړه لاړ شه له ولسمشر سره خبرې وکړه. ځینو به ویل چې پرېږده یې. هغه باید دا ډاډ رامنځته کړي چې هېڅوک پروګرام ته زیان نه شي رسولی، څوک ورته ګواښ نه شي پېښولی او حتی څوک یې له کاره نه شي راګرځولی.

سېنها: ستاسو ملګري له ډیپ سټېټ څخه په وېره کې نه وو؟

دوراني: له رسمیاتو ورهاخوا: د ISI د مشر په توګه یوه پخواني ملګري مې د یوې کوچنۍ ماښامنۍ لپاره دعوت کړی وم. څښاک هم ایښي وو. ځینې مېلمانه ډارېدل او ویې ویل، اوه خدایه، موږ دلته د یوه خوندور ماښام لپاره راغلي یو، خو د استخباراتو مشر مو په خوا کې ناست دی. هغه به خلکو ته وایي چې موږ شراب څښل. هلته ځینې یونیفورم لرونکي افسران هم وو. ملګري مې هغوی ته ډاډ ورکړ او ویې ویل چې زه هغه پېژنم او که څه هم نوموړی حاضر دمه ځینې محدودیتونه لري، خو داسې نه ده چې د چا په کار کې مداخله وکړي او ووایي چې دا وڅښه او هغه مه څښه. بیا وروسته ډاډه شول او ویل یې چې سمه ده وبه یې څښو. خلک ښایي هغه وخت وډار شي چې څښاک په یوه خطرناک حالت بدلېږي. له دیني، قانوني او نورو محدودیتونو پرته، زما په یاد نه راځي چې نشه یان دې کله مضر تمام شوي وي. د جنرال ضیا په شاوخوا کې داسې خلک وو چې زیاتره یې نشه یان وو. دا نه منونکې ده او هغه مېلمانه ځکه ډارېدل چې زه هلته وم.

### ۵

### د ISI او RAW پرتلنه

سېنها: کوم یو ښه دی، ISI او که RAW؟

دولت: له RAW سره د ISI پرتله کول به ځکه مناسب نه وي، چې ISI اوږده مخینه لري، په داسې حال کې چې د RAW له جوړېدو کابو پنځوس کاله کېږي او د ۱۹۶۸ کال په سپټمبر کې له IB څخه جلا شوه. را د ۶۲ او ۶۵ کلونو په جګړو کې د استخباراتي نیمګړتیاوو په پایله کې رامنځته شوه او اغلې ګاندي درک کړې وه چې د هند استخباراتو بهرنیو ګواښونو ته کافي پاملرنه نه وه کړې.


دوراني: یوه ورځ په یوه کنفرانس کې یو امریکایي ژورنالېست چې په ګډوډ وضعیت کې و، راغی او سملاسي یې رانه پوښتنه وکړه: «را څنګه ارزوې؟» دا په ښکاره یوه تصادفي پوښتنه نه وه او غوښتل یې ما غافلګیر کړي، له خولې مې خبرې واخلي او بیا د را مشر ته لاړ شي، ووایي چې وګوره ستا سیال څه وایي او بیا د هغه غبرګون را واخلي. ما تقریباً د غبرګون په ډول ورته وویل: «حداقل زموږ په څېر ښه ده».

په افغانستان کې د ISI ښکېلتیا تر ما مخکې پیل شوې وه، خو ما ومونده چې ټول یې ستایي: ملګري، زاړه ملګري، نوي ملګري. زیاتره خلک به راتلل او د ISI ستاینه به یې کوله چې ډېره وړتیا لري، هر څه کابو کولای شي او له ښه شهرت څخه برخمنه ده. کله چې ما د بهرنیو چارو وزارت د یوه غړي «دوبای» په مشرۍ پلاوي سره یو په یو لیدنه کوله، هغه وپوښتل: «د ISI اصلي تمرکز پر څه شي دی؟» هغه مهال له شک پرته چې زموږ تمرکز پر افغانستان و، خو زما په اند موږ سوېل لور ته هم باید پام کړی وای. نو ومې ویل: البته چې هند.

دولت: زه له جنرال صېب سره موافق یم، که چېرته RAW او IB له ISI او د پاکستان له نورو استخباراتي ادارو سره پرتله کړو، زموږ ادارې ښې مسلکي دي. زموږ ادارو ډېر کارونه کړي چې خلک یې لا په اړه خبر نه دي او باید خبر هم نه شي. هند استخبارات په نړۍ کې وتلې څېرې لري لکه (بي اېن مولیک)، (آر اېن کاو)، (اېم کې نارین) او اوس (اجیت ډوال). **دوام لري...**

# هلمند

حشمت الله نوري



هلمند د افغانستان په سوېل- لوېدیځ کې یو له هغو ولایتونو څخه دی، چې د هېواد لسمه برخه جوړوي. دغه ولایت د طول البلد په ۶۰ درجو او ۶۱ دقیقو او د عرض البلد په ۲۹ درجو او ۳۰ دقیقو کې موقعیت لري.

هلمند ۶۱۸۲۹ کیلومتره مربع مساحت لري، ختیځ ته یې کندهار، شمال ته یې اروزګان، دایکنډي او غور، لوېدیځ ته یې فراه او نیمروز ولایتونه او سوېل ته یې د ۱۶۲ کیلومتره په اوږدوالي د ډیورنډ کرښه پرته ده.

شمالي برخې ته یې غرونه حلقه شوي او سوېل ته یې ریګستاني سیمې دي، هوا او اقلیم یې په ژمي کې معتدل او په دوبي کې ګرم وي. مرکز یې لښکرګاه ښار دی او له پلازمېنې کابل څخه ۶۷۱ کیلومتره واټن لري.

د یوې غیر رسمي سروې له مخې، هلمند دا مهال یو نیم میلیون نفوس لري. دغه ولایت د اداري وېش له مخې د مرکز لښکرګاه په ګډون ۱۴ اداري واحدونه لري، چې نادعلي، مارجې، ګرمسېر، خانشین، دیشو، ناوه، ګرشک، سنګین، کجکي، موسی کلا، باغران، نوزاد او واشېر ولسوالۍ په کې شاملې دي.

سیند او بندونه

د هلمند سیند چې په بېلابېلو دورو کې یې نومونه بدل شوي، زیات نومونه لري چې د بېلګې په توګه یې دلته څو نومونه اخلو: هیتومند په اوستا کې راغلی، په سانسګرېټ کې هیذمند، بیا هتمند، بیا په هیر مند اوښتی او په اسلامي دور کې یې نوم په اوسني هلمند واوښت چې لغوي مانا یې پرتمین، بریمن او پرتم دی .

د برېښنا بندونه

د کجکي د برېښنا بند د دې ولایت یو له مهمو پروژو څخه دی، دغه بند د دریو توربینونو په لرلو سره ۵۱ میګاواټه برېښنا تولیدولی شي، چې اوسمهال یې دوه فعال دي او ۳۱ میګاواټه برېښنا تولیدوي او د هلمند تر څنګ کندهار ښار ته هم برېښنا ورکوي.

د ګرشك د برېښنا بند چې د کانال پر سر جوړ شوی، دوه نیم میګاواټه برېښنا تولید لري، خو همدا اوس یې پر پروژې کار روان دی، چې د تولید کچه به یې پنځو میګاواټو ته زیاته شي .

کلتور

هلمند که څه هم له پخوا زمانو راهیسې د فرهنګ، تمدن او تاریخي میراثونو مرکز و، خو په دې وروستیو کې یې منظمې فرهنګي چارې د بست فرهنګي ټولنې په جوړېدو سره په ۱۳۸۴ لمریز کال کې پیل کړې، تر هغه وروسته د هلمند ادبي ټولنه، پیر روښان ټولنه، سنګ روخام ټولنه، محمود طرزي ټولنه، هاشم سرواني ټولنه، په نادعلي ولسوالۍ کې د نادعلي په نوم ټولنه، په ګرشک کې د شملې ادبي ټولنه او دغه راز په ګرشک کې د سراج په نوم ټولنه چې دا مهال د ادبي بهیر تر څنګ نهه ټولنې فعالیت کوي چې تر دې مهاله شاوخوا ۱۲ سوه شاعران او لیکوالان پکې وخت ناوخت ادبي بانډارونه جوړوي.

تاریخي ابدې

دغه ولایت شاوخوا پنځوس تاریخي میراثونه لري، لکه: بست کلا، سلطان محمود قصر، ارګ مانۍ، تنور کلا، مسجد، اتو کلا، سفار کلا، بولان کلا، د شملان کلا او شاه اسماعیل اغا کلا او داسې نورې چې د ټولو شمېر یې تر پنځوسو اوړي او ډېری یې اوسمهال د نه پاملرنې له امله د له منځه تلو په حال کې دي.

د هېواد د نورو ولایتونو په څېر د هلمند د خلکو هم ملي نڅا ډول ته اتڼ دی، چې ځوانان یې د خوشحالیو په پروګرامو کې کوي.

رسنۍ

په هلمند کې لومړی په ګرشک ولسوالۍ کې د نیمروز په نوم یوه اونیزه د لږ وخت لپاره چاپ شوه، خو تر هغه وروسته په ۱۳۳۳ لمریز کال کې د هلمند جریدې په نوم اونیزې په فعالیت پیل وکړ، چې تر دې مهاله له چاپه راوځي.

د هلمند دولتي راډیو په ۱۳۶۲ لمریز کال کې تاسیس شوه او د هلمند ټلوېزیون بیا په ۱۳۶۵ کال کې په خپرونو پیل وکړ. د سباوون خپلواکې راډیو په ۲۰۰۳ ز کال کې په خپرونو پیل کړې، چې دا مهال په هلمند کې پر دولتي او سباوون سربېره؛ بست، سمون او مسکا سیمه ییزې راډیوګانې پر اېف اېم څپو خپرونې لري او د دولتي ټلوېزیون تر څنګ، د سباوون په نوم یو ازاد ټلوېزیون هم له نږدې یوه کال راهیسې خپرونې لري.

دغه راز په هلمند کې د پګړۍ مجلې تر څنګ چې په لومړي ځل په ۱۳۸۴ لمریز کال کې چاپ شوه، ورپسې شمله، پویا، لښکرګاه، سفار او د روغتیا پلوشې ازادې مجلې دي او تر څنګ یې د هلمند دولتي مجله او د امنیه قوماندانۍ مجله ده، چې یوازې پویا، لښکرګاه او د ولایت مجلې پر وخت چاپېږي. پاتې نورې یې تر یو یا دوه ځله چاپ وروسته له چاپ څخه پاتې شوې دي.

د سیستان، بست، هلمند، هیله، پایله، سجستان، کجکي، د ښاروالۍ اونیزه، میاشتنۍ او مهالنۍ جریدې دي، چې یوازې یو یا دوه ځله چاپ شوې دي .

په هلمند کې د ملي، اریانا، شمشاد، لمر، طلوع او یک ټلوېزیونونو خپرونې هم بروډکاسټ کوي. ازادي راډیو، بي بي سي، ستا، ارمان اراکوزیا، اریانا، شمشاد او ملي راډیو هم په اېف اېم څپو کې خپرونې کوي.

مشاهیر

هلمند ولایت ډېر مشاهیر لري، چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي:

عبدالرووف بېنوا، سلطان محمد خان، محمد افضل خان، محمود پردل، شاه نظر خان هلمندوال، ګل احمد اخندي، امیر حفیظ الله خان حقیار، وکیل محمد خان، دوست محمد خان، د تاغز حبیب الله خان، ملا محمد نسیم اخندزاده، ملا محمد رسول اخندزاده، ملا امیر محمد اڅکزی، ملا امیر اخندزاده، ملا شیر محمد اخندزاده، وکیل سفر خان، علي شاه مظلومیار، ظاهر سوله مل، محمد سوله مل، رییس عبدالواحد، ملا سلام اخند، ملا قیوم ذاکر او ملا عبدالرووف خادم.

پوهنه

هلمند دا مهال ۳۴۱ ښوونځي لري چې ۲۰۴ یې پرانیستي دي. په دغو ښوونځیو کې ۱۳۰ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۰ زره یې نجونې دي او د ۲۹۰۰ ښوونکو لخوا تدریس ورته کېږي .

هلمند د لوړو زده کړو موسسه هم لري، چې د هغې تر څنګ پکې یو دارالمعلمین هم فعال دی .

دغه دارالمعلمین ۵۵۸ زده کوونکي لري چې ۲۷۹ یې نارینه او په همدې شمېر یې ښځینه دي او د ۲۱ استادانو له لوري تدریس ورته کېږي چې له ډلې یې څلور ښځینه دي.

د هلمند پوهنتون په ۱۳۸۷ لمریز کال کې تاسیس شوی، چې څلور پوهنځي (کرنه، تعلیم او تربیه، انجنیري او وترنري) لري.

په دغه ولایت کې درې خصوصي پوهنتونونه: وادي هلمند، اراکوزیا او بست هم فعالیت کوي چې د طب تر څنګ، حقوق او اقتصاد پوهنځي هم لري. د دې تر څنګ، درې انسټېټیوټونه هم فعالیت کوي. په دې ولایت کې شپږ خصوصي لېسې فعالې دي، چې ۱۴۲۸ زده کوونکي لري او له ډلې یې ۱۹۵ نجونې دي.

دغه راز په دې ولایت کې ۱۸ دیني مدرسې د پوهنې له ریاست سره ثبت دي، چې ۲۰۰۰ طالب العلمان پر زده کړو پکې بوخت دي .

کرنه

هلمند د هېواد په کچه لوی او کرنیز ولایت دی او تر نیمایي ډېره ځمکه یې هواره ده چې د هلمند سیند یې لویه برخه خړوبوي. دغه راز په شمالي هلمند کې کاریزونه او چینې شته او تر څنګ یې هوا هم معتدله او د کرنې لپاره مناسبه ده. هلمند د کرنیزو ځمکو تر څنګ، لویې دښتې هم لري چې ډېری ریګي دي. د سون لپاره وچمرغي، ترخې او نورې ونې لري او دغه راز انار، انګور، زردالو، الوچې، الوبخارا، هندوانې، شفتالو، شیلیر، بادام او نور میوه لرونکي باغونه هم لري. جوار، غنم، لوبیا، ممپلي، رومي، بینډۍ، پخته، شنې او تورې مۍ او زعفران یې نور ښه حاصل ورکوونکي کرنیز حاصلات دي او د کرنې تر څنګ یې ډېری وګړي پر مالدارۍ هم بوخت دي.

خو په دې وروستیو کې هلمند د هېواد او نړۍ په کچه د کوکنارو تر ټولو لوی تولیدوونکی ولایت یادېږي. د دې ولایت ډېری بزګران کوکنار کري، چې بیا ترې تاریاک او هیرویین جوړېږي .

لاسي صنایع

په هلمند کې ډېری لاسي صنایع له وړیو، پوستکو او لوخو څخه جوړېږي، لکه: کوڅۍ، لیمڅې، قالینې، پټوګان، خولۍ، جامې، غاړې، پردې، کمپلې، دسترخوانونه، غلبیل، چغل، میده بیز، د لمانځه جای نماز، پړې، چپرکټونه، لاسي دسکولونه، د اسونو او اوښانو لپاره د ښکلا او د بارولو وسایل، ګلدانۍ او نور د ښکلا توکي چې ډېر یې د ښځو او په ځانګړې توګه د کوچیانو لخوا جوړېږي چې له ډېرو څخه یې په ورځني ژوند کې ګټه پورته کېږي.

د هلمند د روخام فابریکه

د هلمند د روخام فابریکه په ۱۳۴۱ لمریز کال کې د وري د میاشتې په ۲۸مه د امریکا په مالي لګښت د وخت د پاچا حضرت ظاهرشاه په لاس ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. هغه وخت سلګونو تنو پکې دنده تر سره کوله، دغه فابریکه د نجارۍ تر څنګ په نورو برخو کې هم فعالیت کوي.

د روخام له ډېرو څخه بېلابېل زینتي او نور شیان جوړېږي، که څه هم دمګړۍ نړیوال مارکېټ نه لري، خو دا مهال یې جوړ شوي توکي د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې پلورل کېږي .

دغه فابریکه پخوا ټوله دولتي وه، خو تېرو دریو لسیزو جګړو یې د کار کیفیت پیکه کړی او له همدې امله اوسمهال پنځوس سلنه خصوصي سکټور ته اوښتې او دا مهال شپېته تنه د روخام او نجارۍ په برخه کې پر کار بوخت دي . دوی درې ډوله ډېرې لري چې د هلمند له سرحدي ولسوالۍ خانشین څخه یې راوړي.

د هلمند د بست تصدۍ (د پنبې) فابریکه هم په ۱۳۴۲ کال کې د وخت د حکومت لخوا جوړه شوې وه، چې هغه وخت یې هر کال له ۲۵ تر ۳۰ زره ټنه مالوچ او د هغې دانه تولیدوله او پیرله چې له دې څخه بیا غوړي، پوستکی، صابون او نور مواد جوړېدل او غوړي به یې تر ډېره په هیواد کې د ملي اردو نظامي ارګانونو ته ورکول کېدل.

هغه وخت په دې فابریکه کې ۱۵ سوه کسانو کار کاوه، چې اوس یې کارونه او تولید ډېر پیکه شوي دي.

ورزش

ورزش او لوبې له پخوا زمانو څخه په هلمند کې دود دي. مهمې هغه یې خوسی، ډېره اچول، کبډي، دوره، کیلک دومبک، پټپټانې، مردکي، بوجلې (بیډۍ)، غیږ نیول، کچه کول، کتار او درې خطی دی چې ډېری یې په کلیو کې دود دي او اوسمهال په ښارونو او کلیو کې والیبال، فوټبال، کرکټ او باسکیټبال لوبو ډېر مینه وال پیدا کړي دي. په دې ولایت کې دا مهال دوه لوی لوبغالي کرزی او غازي محمد ایوب خان فعال دي، چې د فوټبال تر څنګ پکې والیبال او کرکټ لوبې هم کېږي. دغه راز ۱۳ کلبونه شته او ۲۱ ورزشي ځانګې پکې فعالې دي. په دغو ټولو اړونده ځانګو کې یوازې په مرکز لښکرګاه کې ۵۸۴۹ لوبغاړي ثبت او راجستر دي او تر دې ډېر په ولسوالیو کې پرته له دې چې راجستر شوي، پر لوبو بوخت دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦،٩٠ |
| € | ٩٠،٥٠ |
| Rp. | ٤٧٨ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ٩٩،٥٠ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202520100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# هڅه او مقاومت د بریا غوره کیلي ده

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ډېر لږ محصولات داسې دي چې د موبایل ټلیفون په څېر یې زموږ ژوند ته بدلون ورکړی وي. د موبایل له اختراع کېدو راپدېخوا اطلاعاتو ته د لاسرسي، د کارونو د کولو او له نورو سره د اړیکو ټینگولو په برخه کې د پام وړ بدلونونه را منځ ته شوي دي.

کولای شی له موبایل ټلیفون پرته د خپل ژوند په اړه تصور وکړی؟ دې اختراع ډېرې اسانتیاوې لکه ازادي، د وخت سپما، پوهه او چټک حرکت زموږ په واک کې راکړي دي. تر اوسه مو فکر کړی چې دې کوچنۍ الې موږ ته داسې غوره موقع په لاس راکړې ده، چې د تېرو نسلونو ان یوه کس هم لاسرسی نه ورته درلود؟

د موبایل ټلیفونونو د نویو بڼو په رامنځ ته کېدو سره، ان هغو کسانو چې د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي هم پر دې توانېدلي چې پوهې او معلوماتو ته په اسانه او چټکه بڼه لاسرسی ولري. هغه پوهه چې یوازې د گوتو په خوځولو سره د موبایل پر سکرین را ښکاره کېږي او د کتابونو او کتابتونونو له معلوماتو څو برابره په راحت او اسانه ډول د لاسرسي وړ دي.

د مخابراتو نړیوالې ټولنې د ۲۰۱۱ ز کال راپور پر اساس، د ځمکې پر مخ شاوخوا شپږ میلیارده کسان چې د نړۍ ۸۷ سلنه نفوس تشکیلوي، له موبایل ټلیفونونو گټه اخلي چې ٦۰ سلنه موبایل کاروونکي د مخ پر ودې هېوادونو اوسېدونکي دي. وړاندوینه شوې چې یو څوارلس کلن ځوان د خپل موبایل ټلیفون له لارې چې په خپل جېب کې یې درلود، د امریکا د تېرو اته‌لسو کلونو د ولسمشرانو د معلوماتو په پرتله څو برابره زیات اطلاعات او معلومات له ځان سره لېږدوي.

اوسمهال د هر ډول کار کولو لپاره لازم او اړین معلومات زموږ او ستاسو په جېبونو کې دي، دا ټولې اسانتیاوې د هغه کس د ځیرک ذهن د مهربانۍ له امله دي چې له بل هر چا مخکې یې دغه فرصت ته پام وکړ.

«مارتین کوپر»

نوموړی چې د موبایل ټلیفون مخترع گڼل کېږي، د نرم خویۍ، خاکسارۍ او ثابت قدمۍ یوه غوره بېلگه ده. کله چې فرصتونو خپل سر را ښکاره کړ، هغه له ځنډ پرته وپېژندل او گټه یې ترې واخیسته. پرېکړې یې راتلونکي ته پرې نه ښودې، بلکې د هر ډول شک او دوه زړیتوب پر وړاندې ودرېد.

مارتین پر دې پوهېدلی و چې غوره او لویې نظریې له لاندې مواردو سرچینه اخلي:

١- اړتیا
٢- ناحل شوې ستونزه
٣- د کار کولو لپاره اسانه تگلاره

بریالي کسان او کاري ډلې دغو مواردو ته د ځواب ویلو لپاره تگلارې رامنځ ته کوي او د هغوی د بریالیتوب کیلي د هغوی صبر، خاکساري او د خپل لرلید پر لوري پیاوړی گام اخیستل دي.

مارتین کوپر خپل کار د کالیو د محصولاتو او سیارو جامو په برخه کې پیل کړ. هغه د لومړي ځل لپاره د شیکاگو د پولیسو لپاره ساده لاسي مخابرې جوړې کړې. له هغه وروسته یې د ښار د نظم په خاطر خبر ورکوونکي الارمونه (هغه برېښنایي الې چې د لېږد وړ دي او د اړتیا پر مهال د بیپ اواز باسي) اختراع کړې، د هغه دې اختراع په ۱۹۷۳ ز کال کې د اته سوه هرتزي لومړني موبایل ټلیفون د رامنځ ته کېدو لامل شوه چې یو کیلو وزن یې درلود.

کېدای شي یاد درانه ټلیفونونه مو په یاد وي چې د نیم ساعت خبرو کولو لپاره یې لس ساعته چارج ته اړتیا درلوده. تر هغه وخته پورې هېچا د موبایل ټلیفون په اړه حتی نظریه هم نه درلوده، خو مارتین هر څه ته له یوې بېلې زاویې کتل. هغه د داسې یو موبایل ټلیفون تصور درلود چې دومره سپک وزن ولري چې هر څوک وکولای شي له ځان سره یې هر ځای ته ولېږدوي.

نوموړی له ساعتونو ازمویلو او تېروتنې وروسته پر دې وتوانېد څو د هغه الې په واسطه د هغه لومړني کس په توگه وپېژندل شي چې (شخصي موبایل ټلیفون) بلل کېږي. نوموړی د نیویارک ښار د یو سړک په غاړه ولاړ و، خپل موبایل ټلیفون یې را واخیست او یوه شمېره یې پکې ډایله کړه. پوښتنه دا وه چې هغه له چا سره اړیکه نیوله؟ په داسې حال کې چې هغه مهال هېچا موبایل ټلیفون نه درلود!

هغه له یو څه ځنډ او فکر وروسته پرېکړه وکړه چې له هغه یوازیني کس سره اړیکه ونیسي چې نظریات یې ورسره ورته او همغږي وو. هغه کس د ده تر ټولو لوی سیال «جو انگل» و چې د (موتورولا) په نوم شرکت کې یې دنده اجرا کوله. غوښتل یې چې د خپل نوي بریالیتوب په اړه خبر ورکړي.

دغه اختراع د هغو ټولو حیرانوونکو خبرونو په څېر چې د نړۍ په گوټ گوټ کې یې د خلکو په غوږونو کې انگازې کولې، نړیواله شوه او د نړیوالو لپاره یې حیرانوونکي بدلونونه رامنځ ته کړل. مارتین د خپلې دې اختراع له لارې وښوده چې په هر ډول شرایطو کې د خلکو د اړیکو ټینگولو له اړتیا څخه په ښه توگه خبر دی. هغه پوهېده چې نور نو خلک د پخوانیو او سیم لرونکو ټلیفونونو کارولو ته لېوالتیا نه لري.

په ۲۰۰٦ ز کال کې مارتین کوپر او د هغه مېرمن «ارلین هریس» چې هغه هم په خپل وار سره نوموتې نوښتگره مېرمن وه، د «گرېټ کال» په نوم د یوه ارتباطي شرکت بنسټ کېښود. په دې شرکت کې د لوړ عمر لرونکو کسانو لپاره ځانگړې غوږۍ جوړېدې. ارلین په دې برخه کې د پام وړ تجربه درلوده او دوی دواړو داسې یو څه رامنځ ته کړل چې پوخ عمر لرونکي کسان وکولای شي له همدغو غوږیو د موبایل ټلیفون په څېر کار واخلي. دوی دغه غوږۍ پر پوخ عمره او هغو کسانو چې د ساده موبایل ټلیفونونو په لټه کې وو، وپلورلې. د دوی دغه نوښت په عملي توگه د ساده والي له فورموله د کار اخیستلو یوه رښتینې او پرمختللې بېلگه وه.

هغه راز چې د دې بریا تر شا نغښتی دی، څه و؟ مارتین کوپر پوهېده چې: استقامت او مبارزه باید له خاکسارۍ او نرم خویۍ سره یو ځای وي.

تعادل د ژوند کولو لوی لامل دی. مارتین پر دې باور دی چې ځینې وخت استقامت او مبارزې ته دوام ورکول د ناپوهۍ په مانا دي. له دې امله اړینه ده چې د استقامت او ناپوهۍ تر منځ پر توپیر پوه شئ.

کله به چې مارتین له ماتې سره مخ شو، هغه پوهېده چې که چېرې ماتې ته تسلیم شي، هرو مرو به یو بل کس په دې برخه کې بریا ته ورسېږي. هغه پوهېده چې زړه یې غواړي لومړنی کس و اوسي چې بریالی کېږي، له همدې امله یې د غوره تگلارې د پیدا کولو لپاره له اصولو او قواعدو پیروي کوله. هغه د ځان لپاره دغه کاري شعار ټاکلی و: «تر هغو پورې چې له هرې ټاکنې او تگلارې کار وانخلې او ویې نه ازمویې، د تسلیمېدو حق نه لرې.»

کله چې ژوند سختېږي، کله چې د خپلو هیلو او موخو د لاسته راوړلو په لاره کې زموږ لاسونه او پښې تړل کېږي، کېدای شي د هېڅ یوې بلې روښانه لارې او مسیر په اړه پوهه ونه لرو. ماتې خوړونکي په همدې شېبه کې تسلیمېږي. د هغوی د تسلیمېدو او لاس په سر کېدو لامل دا دی چې د بل هېڅ ډول حللارې او مسیر د لیدو وس نه لري. نو دا مهال د دوام لپاره یوازینۍ ټاکنه د راتلونکي په اړه واضح، مثبت او ښکاره لیدلوری دی!

## صدیقي: د جگړو او تاوتریخوالي ډېرېدل د سولې روان بهیر له گواښ سره مخ کولی شي

افغان چارواکي وایي، د تاوتریخوالي زیاتوالی د سولې روان بهیر له گواښ سره مخ کولی شي. د ولسمشر اشرف غني ویاند صدیق صدیقي وایي، د طالبانو د بریدونه زیاتوالی د سولې بهیر زیانمنوي او خلک د دې پروسې په اړه مایوسه کوي.

صدیقي رسنیو ته په لېږلي وېډیويي پیغام کې زیاته کړې: «د طالبانو د حملو زیاتوالی زموږ د سولې پروسه ضعیفه کوي، له خطر سره‌یې مخامخ کوي، افغانان او نړیواله ټولنه نهیلي کوي. له بده مرغه له امریکا سره د طالبانو د موافقه‌لیک له لاسلیک کېدو راهیسې طالبانو د دې پروسې د پرمختگ لپاره هېڅ ډول ژمنتیا نه‌ده ښودلې.»

صدیقي دا خبرې په داسې مهال کړې چې د ارزگان او کندهار په شمول په ځینو نورو ولایتونو کې د طالبانو او افغان امنیتي ځواکونو ترمنځ د درنو جگړو راپورونه ورکړل شوي دي.

صدیقي په خپلو خبرو کې پر پاکستان هم نیوکه کړې او ادعا یې کړې چې په افغانستان کې روان تاوتریخوالی له پاکستاني مدرسو سره مستقیم تړاو لري.

هغه وایي: «یو شمېر ملایان چې موږ یې د طالبانو معنوي پلرونه بولو، زموږ د نظام او خلکو پر وړاندې خبرې کوي او مذهبي افراطیت او ویرانوونکی جهادیزم ترویجوي چې دا د نړیوالو اړیکو پر خلاف کار دی. له پاکستانه زموږ هیله دا ده چې د دغو مدرسو مخه ونیسي. دا مدرسې د افغانستان د ویرانۍ او په افغانستان او سیمه کې د افراطي اسلام د خپرېدو اصلي لامل دي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د پاکستان یوه مذهبي مشر حامدالحق د تېرې چهارشنبې په ورځ په پېښور کې په زبیریه مدرسه کې د وینا پر مهال ویلي وو چې افغان حکومت دې طالبانو ته تسلیم شي.

که څه هم چې پاکستان په دې تړاو څه نه دي ویلي، خو پخوا یې درېځ دا ښودلی چې د افغانستان د سولې د بهیر ملاتړ کوي.

په ورته وخت کې ناټو هم پر خپله ټویټرپاڼه له پاکستانه غوښتي چې د افغانستان د سولې بهیر او یووالي په برخه کې دې خپل کاري پلان عملي کړي.

دغه ائتلاف پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «موږ پاکستان هڅوو چې د سولې پروسې ملاتړ ته دې دوام ورکړي او له افغانستان سره د سولې او یووالي په برخه کې دې خپل کاري پلان عملي کړي. یو خوندي او باثباته افغانستان د دې هېواد د ټولو گاونډیانو په گټه دی.»

## مالیې وزارت: ځینې مافیایي کړۍ د اداري اصلاحاتو له لارې د گومارنې پروسه تخریبوي

مالیې وزارت وایي چې اعلان شوو خالي بستونو ته د گومارنو پروسه د ملکي خدمتونو کمېسیون د طرزالعملونو او وړتیا پر اساس په رڼه توگه پر مخ وړل کېږي.

د مالیې وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دوی د نږدې ۳۳٦ ملکي خدماتو بستونو لپاره چې له عمومي ریاستونو تر شپږم رتبه بستونه پکې شامل دي، د استخدام پروسه پیل کړې، څو غوره کسان د ازادۍ، شفافې او وړتیا پر اساس پروسې له لارې د ټولو اړوندو دندو لپاره استخدام شي؛ کوم چې د یوې اداري اغېزمنتوب، مساوات تضمینوي او نړیوالې همکارۍ پیاوړې کوي.

سرچینې زیاته کړې چې د گومارنو د پالیسۍ اصلي دلیل د مالیې وزارت په ریاستونو کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون ترمنځ د شوې موافقې له مخې اصلاحات راوستل دي تر څو په تدریجي ډول تش او پیشنهادي بستونه د ازادې سیالۍ لپاره اعلان ته وړاندې کړي.

په خبرپاڼه کې راغلي، په لومړي پړاو کې د وزارت پنځم او شپږم رتبه خالي بستونه اعلان شول او شاوخوا ۱۳۰۰۰ نوماندانو د دغو بستونو لپاره نوم لیکنه کړې وه چې له دې ډلې ۸۵۰۰ وړ نوماندان شارت لېست شوي وو.

مالیې وزارت ویلي، د دې په پایله کې ۲۰۴ بریالي نوماندان د یاد وزارت اړوندو ریاستونو کې پر دندو وگومارل شول. په دویم پړاو کې د مالیې وزارت ۳۰ لوړ رتبه بستونه اعلان شول چې په لومړي ځل ۹ د گمرکونو ریاست پورې اړوند دویم بستونه هم شامل دي.

سرچینې ویلي، مالیې وزارت ژمن دی چې ټول خالي او پیشنهادي بستونه اعلان ته وسپاري چې له دې جملې یې ۷۷ درېیم او ۴ رتبه خالي بستونه اعلان کړل کوم چې دا مهال د شارت لېسټ په مرحله کې دي او ازموینه به یې ډېر ژر واخیستل شي.

په خبرپاڼه کې راغلي، اعلان شوو خالي بستونو ته گومارنو پروسه به د ملکي خدماتو کمېسیون د طرزالعملونو او وړتیا پر اساس پر مخ ولاړه شي څو وړ نوماندان جذب شي. دغه وزارت ویلي، هغه نوماندان چې غواړي غوښتنلیکونه او یا د خالي بستونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړي، کولی شي د یاد وزارت رسمي ویب پاڼې ته مراجعه وکړي.

سرچینې ویلي چې دوی هېچا ته اجازه نه ورکوي چې په دې ملي پروسه کې مداخله وکړي او په یاده پروسه کې د اصلاحاتو پر وړاندې خنډ وگرځي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۹مه | د ۲۰۲۰ د نومبر نهمه | ٦۲۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲٤ | ۲۵ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۳ |
| ۵ | ۵ | ۱۵ | ٦ | ۱۲ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵٦ | لمر ختل ۰٦:۲۰ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۳۳ | ماښام ۰۴:۵۴ | ماخوستن ۰٦:۲۱

## نړۍ




# وزارت مالیه ۴۵۲ میلیارد افغانی بودجهٔ سال آینده را به مشرانوجرگه ارایه کرد



وزارت مالیه ۴۵۲ میلیارد افغانی بودجهٔ سال آینده را، به مشرانوجرگه ارایه نموده و گفته است که کمتر از نیم آن، در حالی از عواید داخلی تمویل می شود که۴۰ درصد عواید گمرکات، به دلیل وجود فساد ضایع می شود. به اساس قانون، مسوده بودجه نخست برای ارایه مشوره دهی و تائید به مشرانوجرگه و سپس برای تصویب به ولسی جرگه ارایه می شود. سال مالی افغانستان در اول جدی آغاز می شود.

عبدالهادی ارغندیوال سرپرست وزارت مالیه، دیروز حین ارایهٔ معلومات در مورد مسوده بودجه ملی سال ۱۴۰۰ هجری شمسی در نشست مشرانوجرگه گفت که در مسوده یادشده، ۲۹٦ میلیارد افغانی شامل بودجه عادی و ۱۵٦ میلیارد افغانی شامل بودجه انکشافی می باشد.

بنا بر معلومات ارغندیوال، ۲۱٦ میلیارد افغانی کل بودجه (عادی و انکشافی) سال آینده، از عواید داخلی و متباقی از منابع خارجی به شمول قرضهٔ صندوق بین المللی پول تمویل می شود.

او افزود که ۷۳ در صد بودجه عادی و ده درصد بودجه انکشافی، از عواید داخلی و متباقی از کمک های جامعه جهانی تمویل می شود؛ اما در صورتی که عواید داخلی درست مدیریت شود، تا چند سال آینده افغانستان می تواند بودجه عادی خود را از عواید داخلی تمویل کند.

در عین حال رئیس مشرانوجرگه گفت که این جرگه، با در نظرداشت زمان تعیین شده (پانزده روز) در قانون اساسی، سند بودجه را بررسی و بعد از گنجانیدن نظریات شان تایید خواهد کرد.

# په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر یو میلیون او ۲۵۸ زره او ۳۸۰ کسانو ته ورسېد




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۵۰ میلیونه او ۴۱۰ زره او ۲۳۲ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۲۵۸ زره او ۳۸۰ کسان مړه شوي او له نږدې ۳۷میلیونه ترې ښه رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې لس میلیونه او ۱۸۷ زره او ۲۸٦ ته رسېدلې او ۲۴۳ زره او ۲۹۲ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اته میلیونه او ۵۱۹ زره او ۴۹۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ٦۵۳ زره او ۵٦۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۷۷۴ زره او ۳۳۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ۷۴۸ زره او ۷۰۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، ارجنټاین، بریټانیا، کولمبیا او مکسیکو په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.


# علییف: تر سختو جګړو وروسته مو د شوشي په نوم دویم ستر ښار هم ونیوه

د اذربایجان ولسمشر الهام علییف وايي چې ځواکونو یې په نګورنو قره باغ کې د شوشي په نوم دویم ستر ښار نیولی دی، خو د ارمنستان چارواکي وايي چې په دغه ښار کې جګړه روانه ده او د دوی له لاسه نه دی وتلی.

د علییف تردې څرګندونو وروسته ډېر خلک د اذربایجان په پلازمېنه باکو کې راټول شول او د شعارونو په ورکولو او د بیرغونو په ښورولو سره یې دغه بریا ولمانځله. د علییف تر دغه اعلان مخکې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین له خپلو سیالانو، د ترکیې او د فرانسې له ولسمشرانو سره د نګورنو قره باغ د لانجې په اړه خبرې وکړې او پوتین او ایمانویل مکرون په سیمه کې د ارمن ټبرو او د اذربایجان د ځواکونو ترمنځ د پراخو شخړو په اړه جدي اندېښنه ښکاره کړه. د یادونې ده چې په نګورنو قره باغ سیمه کې د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ د وروستۍ جګړې له پیله تر یوې میاشتې زیاته موده کېږي، خو دواړه خواوې لاهم په جګړه بوخت دي. د ملګرو ملتونو په ګډون، ګڼو نړیوالو بنسټونو او هېوادونو له دواړو لورو غوښتې چې جګړه ودروي او د خبرو له لارې خپلې ستونزې هوارې کړي، خو له دغو غوښتنو سره سره، دواړه خواوې لاهم په سختو جګړو کې ښکېل دي. نګورنوقره باغ چې نړیوال یې د اذربایجان د خاورې یوه برخه بولي، پکې مېشت اکثریت ارمن ټبري یې خپلواکه سیمه بولي.


## ژوند

# دغه خواړه د حساسیت مخه نیسي



الرجي یا حساسیت یوه له ډېرو عامو ناروغیو څخه ده چې انسان له ډېرو خندېونو سره مخ کوي. دغه ناروغي د بدن د دفاعي سیستم د کمزورتیا له امله رامنځ ته کیږي چې د درملنې لپاره یې باید سړی پوه شي چې له کوم څیز سره الرجي لري. له خاورې، ګرد، ځینو خوړو، ګلانو، ربړ او یا هم له ځینو درملو سره الرجي لرل بیخي عام دي، چې دغه ناروغي د انسان پر پوزه، ستوني، غوږونو او پوټکي باندې اثر کوي. ځینې داسې خواړه شته چې د انسان د دفاعي سیستم په پیاوړي کولو سره انسان له دې ناروغۍ ژغوري. مڼه؛ د ورځې یوه مڼه دفاعي سیستم پیاوړی کوي او د الرجۍ مخه نیسي. لیمو؛ لیمو د ویټامین سي او انټي اکسیډنټ غوره منبع ده، چې په بدن کې د القلي اندازه نورماله ساتي. شین چای؛ له الرجي څخه کړېدونکي باید شین چای د خپل ورځني غذايي رژیم برخه وګرځوي، څو د بدن د دفاعي سیستم په پیاوړي کولو سره د الرجي مخه ونیسي. هر ورځ باید دوه ګیلاسه شین چای وڅښل شي.

# نوکیا نوی ځیرک موبایل معرفي کوي




نوکیا کمپنۍ له اوږدې مودې راهیسې پیاوړي ځانګړني لرونکی ځیرک موبایل خرڅلاو ته نه دی وړاندې کړی او تر ډېره یې پر منځنۍ ورتیا او مناسبه بیه لرونکو ځیرکو موبایلونو باندې تمرکز کړی دی؛ خو اوس افشا شوي معلومات ښیي چې نوکیا کمپنۍ د نوکیا۹،۳ پیور ویوو پیاوړي ځیرک موبایل په نوې بڼه چې نوکیا۱۰ پیور ویوو نومول شوی دی، کار کوي. د یادونې ده چې نوکیا۹،۳ پیور ویوو د نوکیا کمپنۍ تر ټولو پیاوړی ځیرک موبایل و چې شاتنۍ برخه کې یې پنځه کامرې لرلې، خو د کمزوري سافټ وېیر له امله د کاروونکو پاملرنې ځان ته اړولو کې بریالی نشو. د نوکیا پاور یوزر د معلوماتو پر بنسټ، د نوکیا کمپنۍ دغه پیاوړی ځیرک موبایل به د کوالکام کمپنۍ له تر ټولو وروستي او پرمختللي پروسېسر سنپ ډراګن۸۷۵ سره خرڅلاو ته وړاندې شي. سرچینه زیاتوي چې دغه ځیرک موبایل به د ۲۰۲۱ کال په دویمه نیمایي کې خرڅلاو ته وړاندې شي او د نوکیا۹،۳ پیور ویوو په څېر شاتنۍ برخه کې به څو کامرې ولري. تر اوسه د دغه ځیرک موبایل نورې ځانګړنې، ډیزاین، د کامرو شمېر او ورتیاوو په اړه معلومات نه دي خپاره شوي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

